اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

د مړي د غسل او کفن دفن او نيتونو، فضيلتونو او مسائلو او نور تعصيل باندې مشتمله رساله

# د مړي د غُسل او کفن دفن طريقه

**پیش کش**

مجلس اسلامک ریسرچ سینٹر

المدینۃ العلمیۃ

او

مجلس کفن دفن

(دعوتِ اسلامی)


ناشر

مکتبۃ المدینہ، کراچی

# ماشومانو ته كوم كوم كفن وركول پكار دي

كوم نابالغه چه د شهوت حد ته رسيدلے وي هغه د بالِغ په حُكم كښې دے. يعني بالِغ ته چه په كفن كښې څومره ټوټے وركولے كيږي هغه ته دِ هُم هغه وركړے شي او د دې نه وړوكـي هلك ته يوه ټوټه او وړوكـي جينئ ته دوه ټوټے (غټ څادر او اِزار [يعني لَنګ]) وركولے شئ او وړوكـي هلك ته هُم دوه ټوټے (غټ څادر او اِزار [يعني لَنګ]) كه وركړے شي نو ښه ده او بهتره دا ده چه دواړو ته پوره كفن وركړے شي اګر كه د يوے ورځې ماشوم وي.

(رَدُّالْمُحتَار كتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فى الكفن ١١٧/٣٠)

## د كفن تفصيل

﴿١﴾ **غټ څادر**: يعني د مړي د اوګږدوالي نه دومره زيات چه دواړه طرف ته اوتړلے شي.

﴿٢﴾ **اِزار**: (يعني لنګ) د سر نه واخله ښپو پورې يعني د غټ څادر نه دومره وړوكے څومره چه د تړلو د پاره زيات وو.

﴿٣﴾ **قميص**: د څټ نه واخله د زنګونانو د لاندې پورې او چه دا مخكښې او شاته دواړه طرف ته برابر وي او په دې كښې به څاقونه او لستونړي نه وي، د نارينه قميص په اُوګو اوڅيرئ او د زنانه د پاره ئې د سينے طرف ته [اوڅيرئ]

﴿٤﴾ **سينه بند**: سينے نه نامه پورې او بهتره دا ده چه د ورنونو پورې وي.

﴿٥﴾ لُوپټه: درې لاسه پكار وي يعني يو نيم ګز (مَدَنى وصِيت نامه، بهارِ شرِيعت حِصّه ٤، ٨١٨/١) [يعني د دې اوګږدوالے د شا د نيمې د لاندې نه واخله د سينے د ښكته پورې او پلن والے ئې د يو غوږ د نرمې حِصّے نه د بل غوږ د نرمې حِصّے پورې پكار دے (مَدَنى وصِيت نامه)]

عام طور تيار کفن اخستلے کيږي، کيدے شي چه هغه د مړي د اوګړدوالي په حساب د سُنّت مطابق ناپ نه وي، دا هم کيدے شي چه دومره زيات وي چه په اِسراف کښې راشي، لِهٰذا احتياط په دې کښې دے چه د تان نه د ضرورت مطابق ټوټه کټ کړے شي. (مَدَنی وصِيت نامه)

## د کفن ور اغوستلو نِيَّتونه

❁ د رضائے اِلٰهی حاصلولو او د آخرت د ثواب ګټلو د پاره به مړي ته کفن اغوندم ❁ فرضِ کِفايه به ادا کووم ❁ ضرورتاً به د کفن وراغوستلو نه مخکښې معاوِنينو [يعني ما سره مدد کوونکو] ته د کفن وراغوستلو طريقه او سُنَّتونه ښايم ❁ د غسل د تختے نه چه مړے کفن باندې خملووم نو ډير زيات احتياط او نرمي به کووم او دغه وخت به ئې د ستر پټولو خاص خيال ساتم ❁ د مړي په تندي به د شهادت په ګوته بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ليکم ❁ هُم دغسې به ورته په سينه باندې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليکم ❁ عِطر يعني خوشبو به ورله لګووم ❁ که د مدينے اُوبه او آبِ زم زم پيدا شو نو په کفن او مخ به ئې ورله شيندم ❁ قَبَر کښې به د قبلے طرف ته تاخ شان جوړ کړم او شجره شريف او عهدنامه وغيره به پکښې کېږدم.

## نارينه ته د کفن اغوستلو طريقه

کفن ته يو ځل يا درې يا پينځه يا ووه ځله [د اګربتۍ يا سپيلني] لوګي اوکړئ. بيا ئې داسې خور کړئ چه اوّل غټ څادر په هغې د پاسه لنګ [يعني ووړوکے څادر] او د هغې د پاسه قميص کيږدئ. بيا مړے په هغې خملوئ او [د کفن] قميص ورواغوندئ، بيا ورته په ږِيره (او که ږِيره ئې نه وي نو په زنه) او په ټول بدن باندې خوشبو اومږئ، په هُغه اندامونو کوم چه په سجده کښې لګي يعني په تندي، پوزه، لاسونو، زنګونانو او ښپو ورله کافُور اولګوئ. (د ستر ځائے ته ئې نه خو کتلے شئ، نه ورته بِلاحائل لاس لګولے شئ) بيا پرې لَنګ [يعني ووړوکے څادر] د ګڅ طرف نه او بيا د ښي طرف نه راتاو

کړئ. بیا په آخِره کښې پرې غټ څادر اول د کِڼ طرف نه او بیا د ښي طرف نه راتاو کړئ چه ښے طرف ئې د پاسه راتاو شي او د سر او ښپو طرف ته ئې (دواړو سرونه) اوتړئ.

## زنانه ته د کَفَن اغوستلو طریقه

کفن ته یو ځل یا درې یا پینځه یا ووه ځله [د اګربتۍ یا سپیلني] لوګې اوکړئ. بیا ئې داسې خور کړئ چه اوّل غټ څادر په هغې د پاسه لنګ [یعني ورُوکے څادر] او د هغې د پاسه قمیص کیږدئ. بیا مړے په هغې څملوئ [د کفن] قمیص ورواغوندئ او ویښته ئې دوه ځایه کړئ او د قمیص د پاسه ئې ورته په سینه واچوئ او [د کفن] لوپټه ورله د نیمې شا نه لاندې پورې خوره کړئ او په سر د پاسه ئې ورله راولئ او په مخ ئې ورله د نقاب په شان واچوئ چه [ښکته] په سینه باندې خوره وي. د دې اوګږدوالے د شا د نیمې نه د لاندې پورې او پلن والے ئې د یو غوږ د نرمې حِصّے نه د بل غوږ د نرمې حِصّے پورې پکار دے. ځیني خلق لوپټه داسې ور په سر کوي څنګه چه ئې زنانه په ژوندینې په سر کوي دا د سُنّتو خِلاف دي. بیا ورته په ټول بدن باندې خوشبو وومږئ، په هُغه اندامونو کوم چه په سجده کښې لګي یعني په تندي، پوزه او لاسونو ورله کافُور اولګوئ. بیا پرې لَنګ [یعني ورُوکے څادر] د کِڼ طرف نه او بیا د ښي طرف نه راتاو کړئ. بیا په آخِره کښې پرې غټ څادر اول د کِڼ طرف نه او بیا د ښي طرف نه راتاو کړئ چه ښے طرف ئې د پاسه راتاو شي او د سر او ښپو طرف ته ئې (دواړو سرونه) اوتړئ. بیا په آخِره کښې ورله سِینه بند د سینے د برې حِصّے نه ورنونو پورې راولئ او په څه مزي ئې اوتړئ. نن صبا د زنانؤ په کفن کښې هُم غټ څادر په آخره کښې راتاوهې نو که د قمیص نه پس سِینه بند کیښودے شي هم څه باك نشته خو غوره دا دي چه سِینه بند د ټولو نه په آخِره کښې وي. (مَدَنی وصِیت نامه)

## کفن څنګه پکار دے

❁ کفن ښه پکار دے یعني سرې به چه په اخترو کښې او د **جُمُعې** په ورځ څنګه جامے اغوستلې او ښځې به چه څنګه جامے پلار کره تللو د پاره اغوستلې د هغه قِیمت پکار دے.

حديث شريف کښې دي، مړو ته ښه کفن ورکړئ ځکه چه هغوئي خپل مينځ کښې ملاقات کوي او په ښه کفن تفاخُر کوي يعني خوشحاليږي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی الکفن، ۱۱۲/۳)

سپين کفن بهتر دے ځکه چه نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خپلو مړو ته په سپين رخت [يعني سپينو کپړو] کښې کفن ورکړئ. (تِرمِذی، کتاب الجنائز، باب ماجاء ما يستحب من الاکفان، ۳۰۱/۲، حديث ۹۹۶)

د زَړې توټې کفن هُم کيدے شي، خو که زړه توټه وي نو چه وينځلے شوي وي ځکه چه کفن سُتره کيدل مرغوب [يعني خوښ کار] دے. (جَوْهَرة نيرة، کتاب الصلوة، باب الجنائز، ص۱۳۵)

کفن که په آبِ زم زم يا د مدينے په اوبو بلکه په دوارو باندې لُوند کړے شوے وي نو سعادت دے. (مَدَنی وصِيت نامه)

## مُتَفَرِّق مَدَني ګلونه

د مړي دواړه لاسونه ډډو ته کيږدئ، په سينه ئې ورله مه ګرځدئ چه دا د کُفّارو طريقه ده. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ۱۰۵/۳) بعضې ځائے کښې ئې ورله د نامه نه لاندې داسې کيږدي لکه د لـمانځه په قِيام کښې، داسې هُم مه کوئ. (بهارِ شريعت حِصّه ۸۱٦/۱،٤)

مړي که څه مال پريښودے وي نو کفن د هغه د مال نه کيدل پکار دي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب فی الکفن، ۱۱٤/۳)

که چا وصِيَّت اوکړو چه ما ته په دوه توټو کښې کفن راکړئ نو په دې وَصِيَّت به عمل نه کيږي، درې توټے دِ ورکړے شي او که دا وصِيَّت اوکړي چه د زرو روپو کفن راکړئ نو دا به هم نه نافِذ کيږي، د مُتَوَسِّط درجې [کفن] دِ ورکړے شي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب فی الکفن، ۱۱۲/۳)

عُلَماء و مَشائخ عمامه [يعني پټکي] په سر خخولے شئ، عام خلق عِمامه په سر خخول منع دي. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار كتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة مطلب فى الكفن، ١١٢/٣ ملتقطاً)

غُسل ورکولو نه پس، کفن کښې مخ پټولو نه مخکښې د مړي په تندي باندې د شهادت په ګوته بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اوليکئ (مَدَنی وصِیَّت نامه)

هُم دغسې ورته په سينه باندې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليکئ. (مَدَنی وصِیَّت نامه)

د زړه په ځائے [ورته] يارَسُولَ الله [اوليکئ] (مَدَنی وصِیَّت نامه)

د نامه او سينے په مينځنئ حِصّه د کفن د پاسه: يا غوثِ اعظم دستګِير رحمۃُ اللہ تعالٰی علیہ يا اِمامِ اعظم ابو حنيفه رحمۃُ اللہ تعالٰی علیہ يا اِمام احمد رضا رحمۃُ اللہ تعالٰی علیہ، يا شيخ ضياءُ الدِّين رحمۃُ اللہ تعالٰی علیہ د شهادت په ګوته اوليکئ. (مَدَنی وصِیَّت نامه) د خپل پير صاحب نوم هُم ليکلے شئ لکه يا عطّار.

او د نامه د پاس نه واخله د سره پورې د کفن په ټوله حِصّه باندې دِ (د شا نه علاوه) ”مدينه مدينه“ اوليکلے شي. ياد ساتئ! دا هر څه په سياهي نه صرف د شهادت په ګوته ليکل دي او که خوك سيّد صاحِب يا عالِمِ دين ئې اوليکي نو سعادت دے.

[اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه فرمائي] په دواړو سترګو دِ راته د مدينے مُنوَّرے د کجورو هډوکي کيښودلے شي. (مَدَنی وصِیَّت نامه)

که د کومې اسلامي خور مخصوصې ورځې وي يا حامِله وي نو هغه مړي ته کتلے شي، په دې کښې هيڅ باك نشته. (دارُالۡاِفتاء اَهلِسُنَّت)

د کفن ټوټه د جامو ګنډلو مشين (يا په لاسو) ګنډلے شئ. (دارُالۡاِفتاء اَهلِسُنَّت)

**دعائے عطار:**

يارب مصطفٰی! د شعبۀ کفن دفن سره تعلق لرونکي چې کوم زما مدني ځامن يا زما مدني لونړه په يوه مياشت کښې کم از کم 12 مړو ته د غُسل ورکولو سعادت حاصل کړي هغوئي ته د دولسمي والا محبوب کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب کړې، چې تر څو ژوندے وي تل د نيکو کولو توفيق ورکړې په سُنَّتو د عمل کولو توفيق ورکړې، په عشق رسول کښې د وخت تيرولو توفيق ورکړې- ياالله پاکه! دوئي ته بيا بيا حج کول نصيب کړې، بيا بيا ئې د خوږې مدينے زيارت نصيب کړې، اِلٰهَ الْعَالَمِيْن! د بدې خاتمے نه ئې اوساتې، يا الله پاکه! په جَنَّتُ الْفِردَوس کښې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ ورنصيب کړې- اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د کَفَن دَفَن مُتَعَلِّق سوال جواب

(از دارُ الْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

**سوال:** که د مړي بدن کښې د څه حادثے په وجه سُوري شوے وي نو هغه ګنډل څنګه دي؟

**جواب:** د وفات کيدو نه پس د ګنډلو اجازت نشته ځکه چه دا مړي ته بے وجهې تکليف ورکول دي، خو هغه سورو کښې دِ مالوچ وغيره کيښودلے شي څنګه چه د پوزې او غوږونو وغيره سورو کښې د کيښودلو حُکم دے.

**سوال:** که اسپتال نه مړے داسې حال کښې راشي چه پټۍ پرې تړلې شوي وي نو آيا پټۍ خلاصول او [په هغه ځايونو] اوبه بهيول به ضروري وي؟

**جواب:** بعضې پټۍ بدن پورې داسې نښتې وي چه که هغه راخلاصوئ نو د بدن يا وينبتو راښکلو په وجه به مړي ته تکليف رسيږي لِهذا داسې پټۍ که ترمو اوبو اچولو سره په آسانئ لرې کيدے شي نو لرې ئې کړئ ګنې پريږدئ ئې دئ او بعضې پټۍ بدن پورې نه وي نښتې، داسې پټۍ دِ مړي ته تکليف ورکولو نه بغير لرې کړے شي.

**سوال:** د پوسټ مارټم والا مړي د سينے نه نامه پورې ټکونو د پاسه پلاسټك شيټ لګيدلے وي آيا هغه لرې کول ضروري دي؟

**جواب:** دا پلاسټك شِيټ عام طور بدن پورې نښتے وي او د دې لرې کول د مړي د پاره د تکليف باعِث وي لِهذا داسې شِيټ هم که ترمو اوبو اچولو سره په آسانئ لرې کيدے شي نو لرې ئې کړئ ګنې پريږدئ ئې دئ.

**سوال:** د مړي که وينه بهيږي نو آيا زياتې پټئ پرې لګولے شي يا د پلاسټك پيکِنګ اجازت شته دے؟

**جواب:** د پلاسټك پيکِنګ په ځائے پټئ کول پکار دي.

**سوال:** مړي له استنجا کولو وخت کښې د پلاسټك وغيره دستانے استعمالول څنګه دي؟

**جواب:** استعمالولے ئې شي.

**سوال:** که غُسل نه پس هُم د مړي خُله وازه پاتې کيږي نو آيا زنې ورله ترلے شي؟

**جواب:** ترلے ئې شي.

**سوال:** که سوزيدلو يا ډوبيدلو په وجه د مړي بدن دومره وروست شوے وي چه لاس لګولو سره ترې د څرمنې ولا ړيدو يا غوښې لرې کيدو يقين وي نو آيا داسې صورت کښې به هُم غُسل ورکول ضروري وي؟

**جواب:** که د مړي بدن وروست شوے وي چه لاس لګولو سره به ترې څرمن ولا ړيږي يا به ترې غوښې لرې کيږي نو هُم غُسل به ورکوي او [داسې مړي ته] د غُسل ورکولو طريقه دا ده چه د لاس مږلو نه بغير پرې اوبه تيرې کړے شي.

**سوال:** د شُوګر د مريض په زخم کښې چه کوم چينجي دننه پورې تلي وي، آيا هغه صفا کول ضروري دي؟

**جواب:** مړي ته تکليف ورکولو نه بغير څومره چه کيدے شي ترې صفا دِ کړے شي.

**سوال:** که جنازه ناوخته کيږي نو غسل کله ورکول پکار دي د وفات نه فوراً پس يا د جنازے د لمانځه نه لږ مخکښې؟

**جواب:** د وفات نه فوراً پس.

**سوال:** د قبر په ديوالونو د ګوتې په اشاره ليکل څنګه دي؟

**جواب:** لیکلے شئ.

**سوال:** که خخولو وخت کښې د ماښام اذان اوشي یا د نورو لـمونځونو د جَمعے وخت شي نو خخول اوکړے شي که جَمعے سره لـمونځ اوکړے شي؟

**جواب:** د څومره کسانو چه خخولو کښې حاجت وي هغوئي دِ پاتې شي او نور دِ د جَمعے سره لـمونځ ادا کړي.

**سوال:** د مړي ښپو باندې که ډیر خیري وي نو صفا کول ضروري دي یا اوبه بهیول کافي دي.

**جواب:** د غُسل فرض ادا کولو د پاره اوبه بهیول کافي دي البته خیري لرې کول د پاره صابُن استعمالول جائز دي.

**سوال:** جُمات نه د جنازے اعلان کول څنګه دي؟

**جواب:** جائز دي.

**سوال:** زمونږ ځائے کښې چه څوك وفات شي نو د جنازے د لـمانځه نه پس حِیله کوله شي او د هغې طریقه دا ده چه اِمام صاحب د جنازے د لـمانځه نه پس مُقتدیانو سره په ولاړه دائره جوړه کړي او د قُرآن شریف نه لاندې څه روپۍ کیږدي او د یو بل مِلك کوي ئې او چه دوباره اِمام صاحب ته راوسیږي نو اِمام صاحب دُعا کوي، یو بل ته د مِلك کولو عمل یو څو پیرے کوي او هره پیره امام صاحب دُعا کوي. آیا دا حِیله کول صحیح دي که نه؟ او د داسې حِیله کولو په وجه به مړي ته څه فائده هُم کیږي، که نه؟ حالانکه د مړي د لـمونځونو او روژو هیڅ حساب نه کوي. وضاحت اوکړئ؟

**جواب:** د حیلۂ اِسقاط دا طریقه صحیح نه ده البته دے کښې چه کوم رقم فُقَراؤ ته ورکولے کیږي د هغې مطابق به [د في فطرے د رقم په حساب] د مړي د [هغه همره] روژو او لـمونځونو فِدیه ادا شي، د حِیلۂ اِسقاط صحیح طریقه دا ده چه د مړي د ټول ژوند د پاتې شوو [یعني قضا شوو] لـمونځونو او روژو حساب اولګولے شي بیا که مړي وصیت کړے وي نو د هغه د ټول مال د دریمې حِصّے نه، او که وَصِیَّت ئې نه وي کړے نو د خپل طرف نه دِ څه مال

ورکړے شي يا دِ قرض راواخستے شي او فِديه دِ ورکړے شي او كه مال كم وي او فِديه زياته وي نو يو بل ته د اړولو راړولو طريقه دِ اوكړے شي دا هُم جائز دي. فُقَهائے كرامو د دې د جواز [يعني جائز كيدو] تصريح كړي ده البته د دې خبرې خيال ضروري دے چه دائره كښې ولاړ [يا ناست] كسان شرعي فقيران وي، څوك غني دِ په هغې كښې نه اودريږي، كه څوك غني پكښې ولاړ وي نو هغه ته د رارسيدونكي رقم په قدر به فِديه ادا نه شي. هر شرعي فقير دِ هغه رقم باندې قبضه كولو نه پس د خپل طرف نه د مړي د لمونځونو او روژو د فِديه په نِيَّت بل ته وركوي، دغسې اړول راړول كوئ تر دې چه د مړي د ټولو پاتې شوو [يعني قضا شوو] لمونځونو او روژو فِديه اوشي. رقم سره كه قُرآنِ پاك هُم وي نو د قُرآن مجيد په بدل كښې به صرف دومره فِديه ادا كيږي څومره چه د قُرآنِ پاك قِيمت دے، دا ګڼړل چه قُرآنِ پاك سره به ټوله فِديه ادا شي دا بے اصل ده.[3]

**سوال:** د بَم وغيره چاودني په وجه بعضې وخت مړي اوشيندل شي او بدنونه ئې ټُكړے ټُكړے شي د هغوئي باره كښې څه حُكم دے.

**جواب:** كه د يو انسان [د سر نه بغير] نيم نه زيات بدن موندلے شي نو غُسل او كفن به وركوي او د جنازے لمونځ به ئې هُم كيږي او كه د جنازے د لمانځه نه پس هغه باقي ټكړه هم پيدا شوه نو په هغې به دوباره لمونځ نه كيږي او كه نيم بدن ئې موندلے شو او هغې سره سَر هُم وو نو بيا هُم دا حُكم دے او كه سَر ورسره نه وي [يعني هغه نيم بدن سره]، يا په اوګږدوالي د سَر نه واخله ښپو پورې د ښي طرف يا ګڅ طرف يوه حصّه موندلے شوه نو په دې دواړو صورتونو كښې نه غُسل شته او نه كفن او نه [د جنازے] لمونځ بلكه يوه ټوټه كښې ئې تاؤ كړئ او خخ ئې كړئ. (الدر المُختار معه رَدُّالُمُحتَار كتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، ۱۰۷/۳)

**سوال:** غسل وركولو د پاره د مړي بالكل بربنډول شرعاً جائز دي كه نه؟

**جواب:** ناجائزه دي ځكه چه د مسلمان تعظيم د ژوند او مرګ حالت كښې يو شان دے.

---

3 ...... د فِدئے متعلق د نور تفصيل د پاره صفحه نمبر 182، 183 اوګورئ.

**سوال:** که د مړي خپلوان بل مُلك کښې وي نو آيا د هغوئي په انتظار کښې خخولو کښې تاخير [يعني ناوخته کول، ليټ کول] کيدے شي؟

**جواب:** حديث کښې دي چه کله تاسو کښې څوك مړ شي نو هغه حصار مه ساتئ او هغه قَبُر طرف ته زر يوسئ. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الجنائز، باب دفن الميت، الفصل الثالث ۲/۳۲۵ حديث۱۷۱۷) د کومو خپلوانو په راتلو کښې به چه ډير زيات وخت لګي نو هلته د هغوئي په انتظار کښې د مړي په خخولو کښې د ناوخته کولو بالکل اجازت نشته.

**سوال:** قَبُر پخول څنګه دي؟

**جواب:** قَبُر د پاس نه پخول جائز دي خو بهتره دا ده چه د پاس طرف نه پوخ نه کړے شي او دننه طرف نه بے ضرورته پخول ممنوع و مکروه دي، ياد ساتئ حقيقت کښې قَبُر د زمکې هغه حِصَّه ده کومې سره چه مړے مُتَّصِل (يعني لګيدلے) وي نو د هغې نه ګيرچاپيره کومه ډېره بے ضرورته پخول ممنوع و مکروه دي البته ضرورتاً دننه حِصَّه د پخولو اجازت شته دے.

**سوال:** بعضې علاقے داسې دي چه کله هلته قَبُر کنستلے کيږي نو د اوبو سطح اوچته کيدو په وجه پکښې لږې ډيرې اوبه راشي، دومره اوبه وي چه د مړي شا پرې لمديدے شي. آيا هغه علاقو کښې د زمکې د پاسه چار ديواري جوړول او په هغې کښې مړے خخول کولے شي؟

**جواب:** مړے په زمکه د پاسه ايښودل او د هغه نه ګيرچاپيره چارديواري قائمول شرعاً جائز نه دي حتَّى الاِمكان مړے زمکه کښې دننه خخول فرضِ کِفايه دي. لِهذا باقاعده دِ قبر اوکنستے شي او مړے دِ د لرګي يا اوسپنې وغيره تابوت کښې بند کړے شي او قَبُر کښې دِ کيښودے شي.

**سوال:** عامو قبرونو باندې د نوم والا تختئ لګولو څه حُکم دے؟

**جواب:** د قَبُر پيژندګلو د پاره د نوم تختئ لګول جائز دي خو په هغې د قُرآنِ کريم آيتونه او اسمائے مُقَدَّسه مه ليکئ ځکه چه عام طور اديرو کښې د هغې بے ادبي کيږي.

**سوال:** زمونږه علاقه کښې دا رواج دے چه کله څوك وفات شي نو د خخولو نه پس څه ورځو پورې د هغه په **قَبْر** ګُلونه ګرځي هُم دغسې په شبِ بَراءَت او د اختر په موقع هُم په قبرونو ګُلونه او د هغې [يعني د ګلونو] پانړې ايښودلے کيږي. آيا قبرونو باندې ګُلونه ايښودل جائز دي؟ او د دې څه فائده هُم شته دے که نه؟

**جواب:** **قَبْر** باندې ګلونه ايښودل جائز و مُستَحَب دي، تر څو چه ګلونو کښې لـمدوالے وي نو مړي ته راحت حاصليږي، دا خبره حديث مبارك نه ثابته ده.

چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رضی اللہ تعالٰی عنھما فرمائي: حُضُورِ انور صَلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم د مکے يا مدينے باغونو نه يو باغ کښې تيريدلو نو د دوو کسانو آوازُ ئې واوريدلو چه په هغوئي عذابِ قبر کيږي، خوږ نبي صَلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم وفرمائيل چه په دې دواړو باندې عذاب کيږي او په څه غټه خبره عذاب نه کيږي چه د هغې نه بچ کيدل مشکل وو بيا ئې اوفرمائيل: په دوئي کښې يو کس خو به د **خپلو** متيازو نه ځان نه ساتلو او بل به **چُغلي** کوله، بيا ئې د کجورې يو شين خاخ را وغوښتلو، هغه ئې دوه ټکړے کړلو او په هر قبر ئې يوه يوه ټُکړه کيښودله صحابهٔ کرامو علیہم الرِّضوان عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم داسې مو ولے اوکړو؟ خوږ نبي صَلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: د دې د پاره چه تر څو دا دواړه خاخونه وچ نه شي د دې دواړو په عذاب کښې به تَخفِيف (يعني کمے) کيږي.

(بُخاری، کتاب الوضو، باب من الکبائر ان لا يستتر من بوله، ۱/۹۵، حديث ۲۱۶)

مرقاة کښې دي: خلقو کښې چه کوم رواج دے چه خوشبوداره ګلونه او د کجورې څانګه په قبر باندې کرځي هغه د دې حديث په رُو سُنَّت دي.

(مِرقاةُ الْمَفَاتِيح، ۲/۵۳)

**سوال:** که ښځه مړے وي نو هغې ته کفن کښې پرتوګ اغوستل صحيح دي که نه؟

**جواب:** د ښځې سُنَّت کفن کښې پينځه کپړے وي،

غټ څادر، اِزار [يعني لَنګ]، قميص، سينه بند او لوپټه. ښځې ته کفن کښې پرتوګ اغوستل سُنَّت نه دي او د دې څه حاجت هُم نشته.

**سوال:** د مړي والا کور ته چه کوم خپلوان د لرې نه راغلي وي د هغوئي د پاره د طعام او د شپے د اوسیدو انتظام کول شرعاً څنګه دي، که د طعام انتظام اونکړے شي نو اکثر کلي کښې هوټل وغيره هُم نه وي چه ميلمانه ئې ترې ځان ته واخلي او اُوئي خوري او نه پخپله څه بندوبست کولے شي نو داسې صورت کښې څه کول پکار دي؟

**جواب:** د خپلوانو یا ګاونډیانو له طرفه د مړي کورنئ ته په وړومبئ ورځ دومره طعام رالیږل چه د دوه وخته خوراك ئې اوشي سُنَّت دي بلکه هغوئي باندې په زارئ خوړل پکار دي. هُم دغسې لرې راتلونکو کښې چه څوك د مړي د کورنئ دي هغوئي هُم دا طعام خوړلے شي. د هغوئي نه علاوه نورو کومو چه میله لګولي وي او پراته وي د هغوئي د پاره د مړي د کورنئ والؤ د خوراك څښاك په اهتمام کښې مشغولیدل د مړي [د کورنئ له طرفه] د دعوت په زُمره کښې داخل بد رسم دے. که د مړي د کورنئ نه ئې څوك خاص د خپل جیب نه اوکړي بیا هُم منع دي او که د مالِ متروکه [یعني د تَرکے د مال] نه ئې اوکړي بیا هُم [منع دي] ترکه کښې که نابالغه هُم وي او د هغوئي د حِصّو نه ئې اوکړه نو سخت اَشَد حرام دي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه ۹/٦٦٦ مُلَخَّصاً)

**سوال:** که دوه کسان د څه دُنيوي خُصومت (یعني جګړے) په وجه خفه وي، دے دوران کښې په هغوئي کښې يو وفات شي نو د دُنيوي جګړے په وجه ژوندي کس د پاره د هغه مړ شوي کس د جنازے لمونځ نه کولو څه حُکم وي؟

**جواب:** څوك چه بغير د شرعي عُذره درې ورځو نه زيات د مسلمان ورور نه خفه اوسي هغه فاسِق دے. حديث مبارك کښې چه د يو مسلمان په بل مسلمان باندې کوم حقونه بيان شوي دي په هغې کښې يو د هغه د جنازے لمونځ کول هُم دي لِهذا څوك چه د خپل مسلمان ورور د جنازے په لمانځه کښې شريك کيدے شي هغه دِ بے عُذره نه پريږدي او د دُنياوي جګړے په وجه خو د مسلمان ورور د جنازے لمونځ پريښودل بالکل نه دي پکار.

**سوال:** غُسل ورکولو وخت کښې که د مړي خُله کښې نقلي جامنې يا د سرو زرو غابښ يا نقلي سترګه يا لينس وغيره د نظر لګيدلي وي نو د هغې څه حُکم دے؟

**جواب:** دے کښې قاعِده دا ده چه که داسې مصنوعي څیزونه په آسانئ لرې کولے شئ چه مړي ته تکلیف نه رسي نو بیا د لرې کولو اجازت دے او که مړي ته تکلیف کیږي نو ویستل نه دي پکار.

**سوال:** بعضې وخت چه نوے قبر کنستلے کیږي نو هډوکي پکښې را اُوځي، داسې صورت کښې څه کول پکار دي؟

**جواب:** کوم ځائے کښې چه د مړي خخیدل معلوم وي اګر که کلونه تیر شي هغه ځائے کنستل او بل مړے پکښې خخول ناجائزه او حرام دي او که معلوم نه وو او د کنستلو وخت کښې هډوکي را اُووتل نو هغه دِ بیرته خخ کړي او بل ځائے کښې دِ نوے **قَبُر** اوکنستے شي.

**سوال:** کله داسې اوشي چه د باران په وجه **قَبُر** کښې سورے اوشي نو خلق ورته [سُوري کښې] ګوري، داسې کول څنګه دي؟

**جواب:** دلته غور کول پکار دي چه کله مړے قبر کښې بند کړے شي او **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ته حواله کړے شي نو بیا د عالَمِ بَرزَخ سلسله شروع شي او بیا دا د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی او مړي تر مینځه رازونه وي لِـهذا هیڅ چا ته هُم د دې نه د خبریدو د کوشش کولو یا **قَبُر** ته [سوري وغیره کښې] د کتلو اجازت نشته.

**سوال:** کوم ماشوم چه ژوندے پیدا شي او بیا مړ شي او د هغه نوم نه وي ایښودے شوے نو آیا وروسته د هغه نوم ایښودل ضروري دي که نه؟ دے باره کښې ارشاد اوفرمائې.

**جواب:** کوم ماشوم چه ژوندے پیدا شي او وفات شي د هغه جنازه به هم کیږي او کَفَن دَفَن به ئې هُم کیږي او د هغه نوم به هُم ایښودے شي که هغه وخت تادئ کښې یا د خفګان په وجه ئې نوم ایښودل هیر شو او خخ ئې کړو نو وروسته ئې هُم نوم کیښودے شئ.

**سوال:** آیا مړي ته غُسل ورکولو کښې د استنجاء د پاره خلته استعمالوے شي؟

**جواب:** عام طور مړي ته غُسل ورکولو کښې استنجاء د پاره استعماليدو والا کپړه د خلتے په شان وي او هغه استعمالولو د پاره لاس ته اچولے شئ.

**سوال:** بعضو علاقو کښې نن صبا اکثر و بيشتر قبرونو کښې دننه د سيمنټو بلاکونه لګولے کيږي او پاس نه بندولو د پاره هُم د سيمنټو جوړ شوي سليپونه لګولے کيږي، نو آيا داسې خخول صحيح دي؟

**جواب:** ولے چه سيمنټ په اور جوړيږي لِهذا د سيمنټو بلاکونه يا په اور پخې شوي خښتې قَبْر کښې مه لګوئ او که د قَبْر د خاورو د غورزيدو انديښنه وي نو هغه خښتو يا بلاکونو لګولو نه پس هغې له د ختے ليو ورکړئ هُم دغسې د سيمنټو د سليپونو دننه طرف هُم په ختہ ليو کړئ چه د مړي هر طرف ته خاوره وي، که چا داسې اونکړل نو هم ګنهګار نه دے.

**سوال:** آيا مکروه وخت کښې هُم د جنازے لمونځ کيدے شي؟

**جواب:** که مکروه وخت کښې جنازه راوړے شي نو داسې صورت کښې د جنازے لمونځ مکروه وخت کښې هُم ادا کيدے شي او که جنازه د مخکښې نه تياره وي او مکروه وخت داخل شي نو بيا مکروه وخت کښې د جنازے کولو اجازت نشته.

**سوال:** چه مړي ته غُسل ورکړے شوے وي او کفن ئې نه وي ور اغوستے، بيا خپلوانو کښې څوک خواهش اوکړي چه زه هُم غُسل کښې شامليږم نو آيا هغه غُسل کښې شامليدے شي؟ دے باره کښې اِرشاد اوفرمائې.

**جواب:** د مړي د غُسل وخت کښې دِ نيک کسان شامِليږي او د ځومره کسانو چه حاجت وي صرف هُم هغه حضرات دِ مړي سره وي او چه غسل ورکړے شو نو بيا چا ته د شريک کيدو (يا [مړي باندې] د اوبو بهيولو) اجازت نشته.

**سوال:** که د مړي د ستر په مقام باندې زخم وي نو آيا د ستر هغه مقام د کتلو اجازت شته د دې د پاره چه په احتياط غسل ورکړے شي؟

**جواب:** غُسل ورکولو د پاره داسې زخم ته د کتلو اجازت نشته، خو اوبه اچولو کښې احتياط کوئ او لاس وغيره پرې مه راښکاږئ.

**سوال:** چه کله د **قَبُر** خوا ته اذان کوي نو خلقو ته وائي چه تاسو لاړ شئ. اوس دلته هيڅ چا ته د حصاريدو اجازت نشته. دے باره کښې شرعي رهنمائي اوکړئ چه شرعي اعتبار سره داسې کول څنګه دي؟

**جواب:** د **قَبُر** خوا ته د اذان کولو مقصد شيطان لرې کول دي او رِوايتونو کښې دي چه کله مړے خخ کړي او خلق ترې څلويښت قدمه لرې لاړ شي نو بيا مُنکَر نَکِير راځي. باقي خلقو ته ځکه د تللو وائي چه هغوئي لاړ شي نو اذان اوکړي خو که هلته څوك ولاړ وي او هغه وخت اذان اوکړے شي نو دې کښې شرعاً څه قَباحَت نشته.

**سوال:** بعضې اسلامي ورونړه [د مړي کوزولو نه مخکښې] **قَبُر** ته کوز شي او د **سُوْرَۂمُلْك** تِلاوت کوي داسې کول څنګه دي؟

**جواب:** که **قَبُر** ته کوز شي او د مړي د آسانئ د پاره د قُرآنِ پاك تِلاوت کوي نو دا جائز دي په دې کښې باك نشته، البته د دې خبرې خيال ساتئ چه که مړے خخولو د پاره را اورسيدو نو هغه وخت د مړي حصارولو او د تلاوت د پاره کوزيدلو په ځائے د مړي د راتلو نه مخکښې تلاوت کوئ.

**سوال:** بعضې وخت د زيات باران او اوبو جمع کيدو په وجه د بعضو قبرونو يوه ډډه ښکته شي بلکه د ډيرو قبرونو د لويدلو انديښنه هُم وي د هغې د دوباره صحيح کولو باره کښې مَدَنـي ګُلونه بيان کړئ؟

**جواب:** په دې صورت کښې د **قَبُر** سپړدلو اجازت نشته بلکه بهر نه دِ په څه طريقه د **قَبُر** صحيح کولو کوشش اوکړے شي. هُم دغسې که څه سلِپ وغيره غورزيدلے وي نو په دې صورت کښې پرې څه کپړه وغيره واچوئ

او يو نيك صالِح مُتَّقي كس ته اُووائي چه هغه دِ قَبْر كښې دننه كتلو نه بغير صرف لاس ورښكته كړي او سلِپ دِ صحيح كړي بيا دِ پرې بل سلِپ فوراً كيږدي. دے دوارن كښې قَبْر ته دننه كتل جائز نه دي.

**سوال:** د ښځو اديرے [يعني قبرستان] ته تلل څنګه دي؟

**جواب:** د ښځو اديرے ته تلل منع دي، بلكه مزاراتو ته حاضريدل ئې هُم منع دي، صرف او صرف د پاك نبی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضے مباركې ته د ښځو د حاضريدو اجازت شته دے، (بلكه سُنَّتِ مؤكَّده واجِب ته نزدے دي) د دې نه علاوه يو مزار يا اديرے ته د فاتِحه وئيلو [وغيره] د پاره د ښځو تلل منع دي، اجازت نشته، په كور كښې دِ فاتِحه [يعني تِلاوت او دُعا وغيره] لولي او ورته اِيصالِ ثواب كوي دِ ئې.

**سوال:** بعضې وخت مړے د مجبورئ په حالت كښې د امانت په طور خخ كړے شي نو د دې به څه حُكم وي؟

**جواب:** امانتاً خخول چه وروسته به ئې بل ځائے كښې خخ كړو، اسلام كښې د دې اجازت نشته، كوم ځائے چه خخ كړے شو هُم هلته ئې پريږدئ. د هغه ځائے نه ويستل او بل ځائے ته منتقل كول دا حرام دي.

## د مجلس كفن دفن تعارف

د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د 79 نه زيات شعبه جات قائم كړي دي او د دې شعبو په ذريعه د نيكئ دعوت عام كولو او د سُنَّتو ژوندي كولو په خدمت كښې مصروفِ عمل دے په هُم دې كښې يوه شعبه كفن دفن هُم ده كومه چې د سنت و شريعت مطابق د عاشقانِ رسول د كفن دفن او د مړي وارثانو سره د غمرازئ كولو ثواب ګټلو د پاره كوشش كوي او ورسره ورسره دا شعبه عاشقانِ رسول (اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو) ته د كفن دفن طريقه ښودلو كښې مصروفِ عمل ده- چنانچه په كفن دفن كښې د حِصَّه اخستلو ترغيب او د كفن دفن زده كولو د پاره د شعبهٔ كفن دفن له طرفه په ملک كښې او بيرونِ ملک ويډيو اِجتِماع ګاني منعقد كيږي چې په هغې كښې عاشقان رسول ته د مرګ نه واخله خخولو پوري مسائلو باره كښې خبردارے وركولے كيږي، د كفن دفن عملي

اِجتِماعات منعقد کيږي او عملي طور د مړي د غُسل او کفن کټ کولو او ور اغوستلو طريقه ښودلے کيږي، د دې نه علاوه د کفن دفن رهائشي کورس اور آن لائن کفن دفن شارټ کورس سلسله هُم شته- (اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په اسلامي خويندو کښې هُم د کفن دفن شُعبه قائمه ده او اسلامي خويندو ته د شريعت مطابق د غمرازئ کولو او د کفن دفن طريقه زده کولو سلسله هُم جاري ده) هُم دغسې کُتبه فروشو، کفن فروشو، د ګلونو مارکيټ او قبر کنسټونکو په مينځ کښې هُم مدني حلقے لګولے کيږي او هغوئي ته هُم د هغوئي معاملات د سُنَّت او شريعت مطابق د کولو ذِهن ورکولے کيږي، د نورې آسانئ د پاره د "Muslim's funeral App" په نوم يو موبائل ايپلي کيشن هُم جوړ کړے شوے دے چې په هغې کښې د انيميټډ ويډيوز په ذريعه د مختلفو عنواناتو تحت مرحله وار د کفن دفن طريقه ښودلې شوې ده- د نور معلومات او رابطے د پاره د دې شعبے د ويب سائټ tajheezotakfeen.dawateislami.net وِزټ کولے شئ- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شعبۀ کفن دفن تحت د دريمې، وومې [يعني د جُمعو]، د څلويښتمې او کليزې په موقعو باندې د ايصالِ ثواب اجتماعاتو هُم اهتمام کيږي- دا ټول اُمور په صحيح طريقه سره کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د تنظيمي تقسيم تحت په مختلفو سطحو (شورئ، ملکي، زون، کابينه، ډويژن اور علاقه سطح) باندې ذمه داران مقرر کړے شوي دي او هغوئي باهمي مشاورت سره دا کارونه د بهتر نه بهتر انداز باندې د کولو کوشش کوي- اللّٰه پاک دِ د دعوتِ اسلامي شعبۀ کفن دفن او نورو ټولو شُعبه جاتو ته ډيرې ډيرې ترقئ ورکړي- آمين

## د مړي ويښته او نوکان کټ کول

د مړي ږِيره يا د سر ويښته ګمنزول يا نوکان پريک کول يا د کوم ځائے ويښته خرئيل يا تراشل يا وښکل ناجائزه او مکروهِ تحريمي دي بلکه حُکم دا دے چه په څه حالت دے په هُم هغه حالت ئې خخ کړئ، خو که نُوک ئې مات شوے وي نو هغه ترې اغستے شئ او که نوکان يا ويښته مو ترې وتراشل نو کفن کښې ئې کيږدئ. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی القراءة عند الميت، ۳/۱۰۴)

# د خُنثٰی د مړي د غسل او کفن طریقه

**خُنثٰی مشکل** (یعني په چا کښې چې د ښځې او سړي دواړو علامات وي او دا ثابته نه شي چې دا سړے دے او که ښځه، هغه) ته به د ښځو په شان پینځه کپړے ورکولے کیږي، خو د هغه د پاره د کسم یا زعفران رنګ شوے او وریښمین کفن ناجائزه دے۔

(فتاوٰی هندیه, کتاب الصلاة, الباب الحادی والعشرون فی الجنائز, الفصل الثالث فی التکفین, 161/1)

## د مستعمَلو اوبو اهم مسئَله

که د بے اَودَسه کس لاس یا ګوته یا د ګوتے بند یا نُوك یا د بدن هغه یوه حِصّه چه په اَودَس کښې وینځلے شي قصداً یا په هیره سره د ”دَه دَر دَه“ (10×10) [یعني ۱۰۰ شرعي ګز] نه کمو اوبو (مثلاً د اوبو نه ډك بالټي یا لوټه وغیره) کښې پریوځي نو اوبه **مُستَعمَلي** (یعني استعمال شُده) شوے او اوس د اَودَس یا غسل کولو لائِق پاتے نه شوي. هُم دغه شان چه په چا باندے غسل فرض وي د هغه د بدن کومه ناوینځلي شوي حصّه که په اوبو کښے اولګي نو هغه اوبه د اَودَس او د غسل د کار پاتے نه شوے.خو که وینځلے شوے لاس یا د بدن بله کومه وینځلے شوي حصّه پکښے اولګي نو څه باك نشته۔ (بهارِ شریعت ج1 ص333)

(د مستعمَلو اوبو، د غسل او د اَودَس تفصیلي احکام زده کولو د پاره بهارِشریعت ج1 حصّه 2 اولولئ)

## مستعملې اوبه دوباره د کار قابلې جوړولو دوه طریقے

﴿۱﴾ په اوبو کښې ناوِینځلے لاس اولګیدو یا په څه وجه مُسْتَعْمَله شوې او غواړئ چه دا د کار قابلې شي نو خومره چه مُسْتَعْمَله اوبه دي د هغې نه په زیات مِقدار کښې په هغې کښې ښے اوبه ګډې کړئ ټولې به د کار قابلې شي او﴿۲﴾ بله طریقه دا ده چه په هغې کښې د یو طرف نه اوبه ور اچوئ چه بل طرف ته وبهیږي نو ټولې اوبه به د کار قابلې شي

## په عوامو کښې موجودې يو څو غلطيانې

❁ د مړي نُوکان او ويښته کټ کول ❁ د مړي اغوستې جامے غورزول ❁ د مړي د غسل نه مخکښې تخته بغير د ضرورته وينځل ❁ په کوم ځائے کښې ئې چې غُسل ورکړے وي په هغه ځائے کښې 40 ورځې رنړا کول ❁ چې خوک د غسل تخته راوړي هُم هغه دِ ئې واپس يوسي کنې مصيبت به ورته پيښ شي- ❁ د مړي په کفن کښې لنګ لازمي قرار کول ❁ په قبر د پاسه ماتې کړې اګربتۍ اچول ❁ د مړي د غسل صابن بيا په اِستعمال کښې راوستل ناجائزه ګنړل ❁ د مړي کپړے په قبرستان کښې پرېښودل، په دې وجه چې چرته د مړي رُوح مونړه اُو نه نيسي ❁ د مړي د غُسل اوبه کټړ ته تلل ناجائزه ګنړل ❁ د ډير عمر ښځه د خاوند د جنازے سره 40 قدمه بوتلل، په دې سوچ چې داسې به عِدّت ختم شي ❁ که ماشوم وفات شي نو د اديرے نه بهر خخول لازمي ګنړل- [دا غلطيانې په بعضې قومونو کښې وي]